که ته داسې يې لکه څنګه چې وايې نو ګويا داسې ده لکه ته چې يې په مخونو کې ايرې بادوې، او تر هغه به د الله له پلوه له تاسره مرستندوي وي چې دغه ډول اخلاق کوې

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې: يو سړي وويل چې اې د الله رسوله! زما خپلوان دي زه ورسره خپلولي پالم او هغوی يې راسره نه پالي، زه ورسره ښه کوم او هغوی راسره بد کوي، زه بد برداشت کوم او هغوی راباندې غصې کوي، نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته وويل: «که ته داسې يې لکه څنګه چې وايې نو ګويا داسې ده لکه ته چې يې په مخونو کې ايرې بادوې، او تر هغه به د الله له پلوه له تاسره مرستندوي وي چې دغه ډول اخلاق کوې».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو سړي شکايت وکړ چې دی خپلوان او خپلولي لري او دی له هغوی سره نېکه رويه کوي، په داسې حال کې چې هغوی ورسره د دې پر ضد رويه کوي؛ دی ورسره خپلوي پالي او هغوی يې ورسره پرې کوي، او دی ورسره په نيکۍ او وفادارۍ چلند کوي، حال دا چې هغوی ورسره په ظلم او جفا سره بد سلوک کوي، دی ورته له زغم څخه کار اخلي، مهرباني پرې کوي او بخښه ورته کوي او هغوی پرې په ناوړه الفاظو او عملونو سره تېری کوي، نو آيا د ياد شوي شيانو سر ببره ورسره خپلوۍ پاللو ته دوام ورکړي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: که داسې وي لکه تا چې يادونه وکړه، نو ته هغوی ذليلوې او د خپل ځان په وړاندې يې داسې سپکوې لکه ته چې دوی ته ګرمې ايرې ورکوې، ستا د زياتې نيکۍ او د هغوی د خپل نفس په وړاندې د زياتې بدۍ له امله، نو تر څو چې ته همداسې يې لکه څنګه چې دې يادونه وکړه او هغوی هم همداسې په خپلې بدۍ پاتې وي، نو تاسو سره به تل د الله ملاتړ وي چې د هغوی د ضرر مخنيوی به کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3863

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee